صداهای زنان برای صلح همه‌شمول و پایدار
د ټول‌شموله او تلپاتي سولې لپاره د ښځو غږونه
Women's Voices for an Inclusive and Sustainable Peace

د ښځو د سولې لنډیز

د ښځینه مرستندویه کارکونکو د کار د بندیز د اغیزو په اړه د افغان میرمنو نظرونه

د ۲۰۲۳ کال د جولای میاشت

لنډیز:

- د هرات، ننګرهار، بلخ، بادغیس، کابل، تخار، بامیان، کندهار، دایکندي، پنجشیر، کنړ، جوزجان، فراه، فاریاب، بامیان، بغلان، پنجشیر او پکتیا ولایتونو ۲۱۰۸ ښځو د ښځینه مرستندویه کارکوونکو د کار بندیز او دا چې نړیواله ټولنه باید په دې اړه څه وکړي، په هکله خپل نظرات وړاندې کړل.


- د دې پوښتنې په ځواب کې چې د ښځینه مرستندویه کارکونکو د کار بندیز څنګه د بشري مرستو په ویش اغیزه کوي، ډیری ښځو (۳۶٪) وویل چې مرستې اوس ښځو ته نه رسېږي. اکثریت ښځو په ننګرهارولایت کې، او ډېرى ښځو په بامیان، فاریاب، هرات او دایکنډي په څېر ولایتونو کې همدا ځواب غوره کړي وو.

- د سروې د ځواب ویونکو لوی اکثریت ووېل چې د ښځو په مشرۍ کورنۍ، د ښځینه مرستندویه کارکونکو د کار د بندیز (۸۳٪) له امله اغیزمنې شوې، او (۵۵٪) ووېل چې دا کورنۍ "ډېرې اغیزمنې شوې" دي.


- ځواب ویونکو ویلي چې د نارینه مرستندویه کارکونکو له لورې، له خپل ځواک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې خطر لوړ شوی، او د دې سلنې نیمایی برخې (۶۰٪) وویلي چې له دې خبرې سره "په کلکه موافق دي". پداسې حال کې چې د جوزجان، کندهار، فاریاب او دایکندي په څېر ولایتونو کې، دا ځواب په غوڅ اکثریت "په کلکه موافق" انتخاب کړی.

- اکثریت ګډوانوال (۶۲٪) له نړیوالې ټولنې غواړي چې پر طالبانو فشار راوړي چې د ښځینه مرستندویه کارکونکو د کار بندیز بیرته واخي. دا غوښتنه د سروې د ځواب وېونکو له لورې چې په هغوی کې د بېلابېلو عمرونواو مسلکونو درلودونکو ښځو ګډون درلود او نړدې په ټولو ولایتونو کې شوې ده، پرته له جوزجان ولایت څخه، چې د ډیپلوماتیکو فشارونو د پلي کولو لپاره یې د بشري مرستو د بندولو او د بندیزونو د معافیت ځوابونه هم غوره کړی وو.


لومړی پوښتنه : پرښځینه مرستندوبه کارکوونکو بندیز، څنګه د بشري مرستو پر ویش باندې اغیزه کوي؟



دوهمه پوښتنه: ستاسو په سیمه کې، پر ښځینه مرستندویه کارکونکو د کار د بندیز له امله، پرهغه کورنیو چې مشري یې د ښځو لخوا کېږي، څومره اغیزه شوې ده؟




دریمه پوښتنه: ستاسو په اند، نړیواله ټولنه باید د ښځینه مرستندویه کارکوونکو بندیز ته څه ډول غبرګون وښیي؟



- ۷٪ هیڅ غبرګون دې نه ښیي، د معمول په څیر دې خپل کار ته دوام ورکړي
- ۱۴٪ ټولې بشري مرستې دې وځنډول شي
- ۱۷٪ پر طالبانو فشار راولي چې پر بندیزونومعافیت زیات کړي
- ۶۲٪ پر طالبانو فشار راولي چې بندیزونه بیرته واخلي

خلورمه پوښتنه: د ښځینه مرستندویه کارکونکو په نشتون کې، آیا نارینه مرستندویه کارکونکي ښځو ته د مرستو د وېش پر مهال له واک څخه ناوړه ګټه اخلي؟



د ګروپي بحثونو غونډې په ۱۱ ولایتونو کې ترسره شوی

هرات، بغلان، بلخ، بامیان، دایکندی، فراه، فاریاب، جوزجان، قندهار، ننګرهار او پکتیا

د ګروپي بحثونو غونډې ۹۰ دقیقې دوام وکړ؛ له ګډونوالو وپوښتل شول :

۱ آیا ستاسو په ټولنه کې میرمنې او انجونې له هغه وخت څخه چې د ښځینه بشردوستانه کارکونکو پر کار بندیز لګول شوی، توانیدلې چې مرستو ته لاسرسی ولري یا د نغدو پیسو ویش مرکزونو ته ولاړې شي؟ که هو، دوی له نارینه بشردوستانه کارکونکو سره په مستقیم ډول د اړیکو په اړه څنګه احساس کوي؟ زموږ د جون مباشتې د سروې ډیری ځواب ویونکو مورِ ته وویل چې د ښځینه مرستندویه کارکونکو نشتوالي د نارینه مرستندویه کارکوونکو لخوا له واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې خطر زیات کړی دی. ایا تاسو مورِ ته وښلای شی چې ستاسو په ټولنه کې د مرستو د ترلاسه کونکو میرمنو سره داسې څه پیښ شوي دي او دا ناوړه ګټه اخیستنه په کوم ډول یا بڼه وه ؟

۲ د جون په میاشت کې زموږ سروې دا هم وښودله چې هغو کورنئ چې ښځې یې مشري کوي، د ښځینه بشردوستانه کارکونکو د کار د بندیز له امله تر ټولو ډیرې اغیزمنې شوې دي ستاسو په ټولنه کې د هغو کورنیوچې مشري یې میرمنې کوي، له داسې حالت سره د مقابلې لپاره کوم ګامونه پورته کړي؟ د ملګري ملتونو اداري او یا سیمه ییز غبرګولتي مؤسسې کومې بدیلې تګلارې په پام کې نیولای شي چې داسې کورنیو ته چې مشري یې ښځې کوي، مرستې ورسوي یا ورته رسیدګي وکړي؟

۳ ایا تاسو فکر کوی چې هغه ښځې چې مرستو ته لاسرسی لري، په خپلو کورنیو کې د هغو ښځو په پرتله چې مرستو ته لاسرسی نلري، ښه چلند ورسره کیږي؟ هو/نه [وضاحت] .
[د مثال په توګه: دوی د پریکړې کولو واک لري؛ له دوی سره د کورنیو پریکړو په اړه مشوره کیږي یا کیدای شي په ځینو مواردو کې د نورو په پرتله له لږ فزیکي ځورونې سره مخامخ شي]

د ګروپي بحث ګډونوالو ښځو په وینا، مرستو ته لاسرسی او د نغدي مرستو ویش په هیواد کې شتون لري، خو دا وېش او شتون حتی د ېوه ولایت په سطحه هم توپیر لري. هغه دلایل چې د دې ځواب لپاره وړاندې شول په دې ډول وو: مرستې د دوی په سیمه کې نه ورکول کېږي، ښځې نه غواړي او یا نشي کولای له نارینه مرستندویه کارکوونکو سره د ېبلابېلو دلایلو له امله (د دوی د خوندیتوب او محرمیت څخه نیولې تر ټولنیزو قوانینو او رسم رواجونو پورې چې ښځو ته اجازه نه ورکوي تر څو له نارینه څخه مرسته وغواړي) اړیکه نشي نیولای. د پکتیا او جوزجان په څېر ولایتونو کې مرستې وېشل کېدلې، خو له نارینه وو سره د ښځو د اړیکو پر وړاندې خنډونو له امله، دغه مرستې ښځو ته په عملي بڼه نه دي رسېدلې. خو په نورو سیمو کې وضعیت په بل ډول دی. له هرات ولایت څخه ګډونوالو، د مرستو د وېش په چارو کې د فاسدو شبکو د شتون یادونه وکړه. د بغلان ولایت برخوالو د نارینه مرستندویه کارکوونکو یادونه وکړه چې د ښځو د ځورولو لپاره د هغوی د اړیکو د شمېرو معلومات راټولوي، داسې کړنې په ډیری ولایتونو کې د نارینه مرستندویه کارکونکو او د سیمې مشرانو له لوري لیدل کیږي - په فاریاب ولایت کې یوې ګډون کونکې تشریح کړه چې څنګه د ټولنې مشرانو لخوا دا ډول ځورونې ترسره کېږي. له بغلان ولایت څخه ېوې ګډونوالې ووېل چې نارینه مرستندویه کارکوونکي او د سیمې مشران د مرستو په رسولو کې له خپل رول څخه ناوړه ګټه اخلي: "د سیمې مشران، لکه څنګه چې نارینه کارکوونکي له ښځو څخه د نغدو پیسو یا خوراکي توکو لکه غوړېو څخه خپله برخه غواړي - دوی ښځو ته وایي چې مرسته ترلاسه کړی، مونږ ته زمونږ حق راکړی، لکه پیسې، غنم اوړه او نور توکي». د ننګرهار ولایت ګډونوالو حتی د هغو ښځو فزیکي ځورونې په اړه هم معلومات شریک کړل، چې

مرستې ترلاسه کوي. د دایکنډي او فاریاب ولایتونو په څېر سیمو کې ګډونوالو ووېل چې دوی نورمرستو ته لاسرسی نه لري. په ټولیز ډول، دا معلومات د نارینه مرستندویه کارمندانو لخوا له واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په اړه د سروې د درېو پوښتنو له ځوابونو سره سمون لري - د ګروپي بحث ډیری ګډونوالو د سروې له ځوابونو سره توافق درلود ځکه چې دوی یا په مستقیم ډول داسې ناوړه چلندونه لیدلي وو او یا هم له نورو میرمنو څخه یې په دې اړه اوریدلي وو.

د دې پوښتنې په اړه چې د هغو کورنیو په اړه وه چې مشري یې د ښځو لخوا کېږي، او څنګه کولاې شي له داسې شرایطو سره مقابله وکړي، ځوابونه ډېر هیله بخښونکي نه وو داسې ښکاري چې دا ډول کورنۍ نشي کولای د مقابلې لپاره څه وکړي، او په غربت کې ژوند تېروي. د بلخ او بامیان ولایتونو په څېر سیمو کې ګډون کوونکو وویل چې ښایي ښځو هڅه کړې وي چې لاسي صنایعو ته وده ورکړي، خو دا ډول پروژې دوامدارې ندي. د ډیری ولایتونو ګډونوالو یادونه کړې چې ښځې سوال کولو ته مجبورې شوې، د جاېداد پلورلو یا د خپلو ماشومو لوڼو ودولو ته مجبورې شوې دي. دا معلومات د سروې له ځوابونو سره ورته والئ لري، د سروې ډیری ګډونوالو هم وویل چې د ښځو په مشرۍ کورنۍ د بندیزونو له امله سختې اغیزمنې" شوې دي".

د پوښتنو له ځوابونو څخه داسې ښکاري چې په ټولو ولایتونو کې د ګډونوالو غوښتنه له ملګرو ملتونو او نړۍ څخه دا ده چې طالبان دې ته اړ کړي چې محدودیتونه پای ته ورسوي تر هغه وروسته، د ټولو ګډونوالو غوښتنه د کاري فرصتونو او روزنې پروګرامونو برابرول وو. کومه خبره چې په دې بحثونو کې د پام وړوه، په هر ولایت کې یوازې یو څو تنو ګډونوالو دا ډول وړاندیزونه وړاندې کول، ډیری نور ګډونوالې په مجموعي توګه د وضعیت په اړه ناهیلې وې. د دایکنډي ولاېت ګډونوال په مشخصه توګه تر نورو ولایتونو ښه وو ځکه د وضعیت د ښه کولو د څرنګوالي په اړه یې نظرونو نه درلودل او له ځوابونو یې ښکاري چې له دې وضعیت څخه د وتلو په اړه ناهیلی وو.

د دریمې پوښتنې په اړه، ګډونوال که څه هم یوې عمومي هوکړې ته نه وو رسېدلي خو داسې ښوې هوکړې ته نږدې وو: هغه میرمنې چې مرستو ته لاسرسی نلري په څرګنده توګه د فزیکي او روانې ځوروني، د واک او درناوي له لاسه ورکولو، او اقتصادي زوال سره مخ دي. د پام وړتعداد ګډونوالو ووېل چې مرستو ته لاسرسی د واک د یو څه زیاتوالي لامل ګرځي یوې ګډونوالې په زغرده وویل: "لکه څنګه چې په یوه متل کې ویل شوي: "څوک چې ډوډۍ ورکوي امر کوي". نورو ګډونوالو ووېل چې مرستو ته لاسرسی یوه مالي برتري کېدلای شي خو د میرمنو لپاره د نورو ګټو تضمین نه کوي. د بحثونو په ترڅ کې دا هم روښانه شوه چې هغه کورنۍ چې اقتصادي وضعیت یې ښه وي، په هغو کورنیو کې د نارینوو د ناوړه ګټه اخیستنې احتمال هم ټیټ وي.

روش :

" واوره " د ډیجیټل ټولپوښتنو وسیلې او ټولنیز چلند سره یوځای کوي ترڅو په 'ریښتیني وخت' کې په سیمه ایزه کچه د افغانستان د ښځو تجربې او نظرونه ترلاسه کړي. "واوره درې ځیرنیزې وسیلې کاروي: د ټیلی ټولپوښتنو سیستم، مخامخ لنډې ټولپوښتنې او ګروپي متمرکز بحثونه، چې د ټولیز تحلیل وړاندې کولو لپاره د یوه مثلث په توګه کارکوي. دا روش/طریقه د دې لپاره طرحه شوې چې له بېلا بېلو برخو څخه د ښځو ګډون او استازیتوب ته لار هواره کړي. په دې سروې کې، د بلخ، بامیان، دایکندي، فراه، فاریاب او جوزجان ولایتونو اطلاعات/ډیټا او د سروې د پاېلو د باور کچه تر ۹۰٪ لوړه ده.

د "واوره " په اړه :

"واوره" یو ډیجیټل جوړښت دی چې په ریښتیني وخت کې او د بېلابېلو مسئلو په اړه د ښځو نظرېات راټولوي او په ۲۰۲۰ کال کې د پالیسۍ ځیرنې او پراختیا مطالعاتو بنسټ لخوا چې د افغانستان پو فکري مرکز دی او په کانادا کې فعالېت کوي، رامینځته شوی. لکه څنګه چې له نوم څخه یې ښکاري، واوره په پښتو کې 'اوریدلو' ته وایي، او له دې موخې سره رامینځته شوی چې د افغان ښځو د "اوریدلو" پروسې ته د یو اړخیزې پېښې په توګه نه بلکه په افغانستان کې د سولې، امنیت او پرمختګ په اړه د ټولو ملي او نړیوالو بحثونو بشپړې او پرلپسې برخې په توګه وکتل شي.